International Journal of Human and Society (IJHS)

P-ISSN: 2710-4966 | E-ISSN: 2710-4958
Vol. 4. No. 04 (Oct-Dec) 2024 | Page 183-190

# Nourishing Of Pashto Idioms In The Book Of Dr. Samandar Yousafzai "Da Lawango Rashy"

Dr shahab ud Din
Lecturer in Pashto Govt Degree College Jower Buner
dawodkhel@gmail.com

**Abstract:** *The term "Muhavera" (محاورہ) originates from the Arabic root ح و ر (ḥ-w-r) that means "to converse or to dialogue." In its broader usage, "Muhavera" means "conversation" or "dialogue" In Pashto it has come to specifically denote idiomatic expressions or phrases used in everyday speech to convey figurative meanings. In the Pashto context, a muhavera is a culturally specific way of expressing complex ideas or emotions concisely through figurative language, often reflecting shared cultural values, humor, or wisdom.*

*Dr. Samandar Yousafzai's use of idioms in "Da Lawango Rashy" reflects the richness of the Pashto language and culture. These idioms in Pashto serve as powerful tools to articulate complex ideas, connect with readers emotionally, and preserve the linguistic heritage of Pashto-speaking communities.*

**Keywords:** Pashto Idioms, Muhavera, Lawango Rashy

محاوره د یو شمېر لفظونو داسې ښائسته ترکیب او ترتیب دے چې د اصلي او لغوي معنې نه پرته په مجازي معنو کښې مستمل راوړلے شي. محاورې د متل په شان د فولکلوري ادب یو اهمه برخه ده. د دې جوړونکے یا جوړونکي ټول اولس په شریکه وي بلکې عام اولس خو په هره خبره کښې طنزیه محاورې راوړي.

فرهاد علي وسیم یوسفزے د محاورې باره کښې لیکلي دي چې محاوره به د جملې یا خبرې مطلب پوره کوي لکه چې وائي:

"محاورې هم د دوو یا د دوو نه د زیاتو الفاظو نه جوړې وي اکثر محاورې هم د خپل اصلي او حقیقي معنو په ځاے مجازي معنی ورکوي. لکه اسمان ته خېژول اسمان ته په اسانتیا ختل نه شي کېدے خو دلته خېژول په مجازي معنی کښې استعمال شوي دي محاوره د خبرې یا جملې مقصدیت او مطلب پوره کوي او څرګندوي خو خپله په مطلب او مقصد کښې نیمګړې وي"[i]

محاورې په خپله مکمله فقره نه وي بلکې دا په خپله د بلې جملې محتاجه وي که چرې محاورې په جمله کښې استعمال شي نو بیا ئې مطلب ښه واضح او اسان شي. د محاورو استعمال لکه د متل په رنګ د هر قام او هرې ژبې د کلتور هنداره وي. محاورې په نثر کښې هم او په منظوم حالت کښې هم په تحریر کښې راوړلې شي

"محاوره (phrase) یو عربي الاصل لفظ دے چې د فارسۍ په لاره پښتو ته راغلے دے. په پښتو کښې د دې له پاره بل مترادف او متبادل لفظ نشته البته د افغانستان پوهانو د دې له پاره د "ګړنې" اصطلاح خوښه کړې او غوره کړې ده."[ii]

په لغت کښې روزمره یا محاوره یوه نیمګړې خبره وي. چې د دوو یا دوو نه په زیاتو ټکو مشتمله وي کله چې روزمره په مجازي معنو کښې استعمال شي نو دا روزمره به محاوره وئیلے کیږي. هره محاوره روزمره وي خو هره روزمره محاوره نهٔ شي کېدې. الطاف حسېن حالي په مقدمه شعروشاعرئ کښې د محاورې معنی خبره لیکلي ده. په اصطلاح کښې محاوره دوه یا درې لفظونه وي چې کله د اسم سره فعل په مجازي معنو کښې استعمال شي لکه داسې لیکلي دي.

"محاورہ لغت میں مطلقاً بات چیت کرنے کو کہتے ہیں۔ خواہ وہ بات چیت اہل زبان کے روزمرہ کے موافق ہو یا خواہ مخالف۔ لیکن اصطلاح میں خاص اہل زبان کے روزمرے یا بول چال یا اسلوب بیان کا نام محاورہ ہے۔ لیکن ضرور ہے ہے محاورہ ہمیشہ دو یا دو سے زیادہ الفاظ میں پایا جائے کیونکہ منفرد الفاظ کو روزمرہ یا بول چال یا اسلوب بیان نہیں کہا جا سکتا۔"[iii]

محاوره ځوک په ادب کښې حسابوي ولې ډېر ئې فولکلور ګڼي او د متل، اړ، ټکونو او دوېو په قطار کښې هم اودرولې شي. هر څه چې وي خو محاوره د ژبې یو اهم توکے دے ځومره

چې د يوې ژبې د محاورو پنګه ډېره وي هومره د ژبې لمن به فراخه وي. پروفېسر ميا عنوان دين کاکا خېل د محاورې د ارزښت او اهميت په باب کښې داسې ليکلي دي.

"د محاورو نه اصطلاحات جوړېږي دغه اصطلاحات د ژبې په لمن کښې د علومو، فنونو او ادب ملغلري دوړوي. په محاورو کښې تنوع پيدا کوي. موضوعات ئې ډېروي. د محاورې په شته والي ژبه د بيان او اظهار له لوريه مړه، پټه او ذرخېزه وي. که زمونږ شعرونه په تشبيهاتو، استعارو او نورو شعرونو صنائيو بدائيو ښائسته کولې شي نو نثر ئې په متلونو، تلميحاتو او خصوصاً په ښکلي ښکلي محاورو مخوريزه وي. ليک ته درناوي ورکوي. او په ليک کښې خوږوالے پيدا کوي."[iv]

د ادب پوهان په خپلو کلامونو کښې محاورې راوړي ځکه چې کوم ليک کښې محاورې په استعمال کښې راشي نو هغه ليک خوندور وي. ژبه ئې خوږوالې لري. فصاحت او بلاغت ترې هم جوړېږي او تل عمر ياد ساتلے شي. هم دغه رنګ ډاکټر سمندر يوسفزي په کلام کښې يو شمېر محاورې شتون لري چې د کلام ښکلا، ښائست او حسن ته ئې دوام بخښلے دے. هغوي چې کومې محاورې راوړي دي په ډېر ښکلي انداز او پېرايه کښې ئې خوندي کړي دي. لکه

زړۀ لوېدل، لاس اخستل، خوا سړېدل، په رڼا ځان وينځل، زړۀ سېزل، وعده سر خوړل، اور بلېدل، تود باد الوتل، زړۀ خوړل، زړۀ په هوا کېدل، رو ګودر خطا کېدل، زړۀ سپړدل، قيامت تېرېدل، په اسمان کښې ټال اچول، په لمنه مونځ کول، د غرض په ورځ پيدا کېدل، ډکه خلۀ خندا کول، په زړۀ کښې لار ورکول، په خلۀ مهر لګول، غوږونه درنېدل، بربرکت الوتل، زړۀ ماتېدل، توبې ور بندول، اسمان خوړل، ساګ سيلۍ وړل، سترګې ډکېدل، ټول کلے خبرېدل، د زړۀ کور ته راتلل، په مرئ خپسه کښېناستل، سپېره سيلۍ الوتل، خوا يخېدل، سترګې بدلول، زړۀ خوړل، خاورې بادول، ټال مټول کېدل، زړۀ ټکورول، زړۀ وړل، خاورې کول، لوګے کېدل، په درنو کاڼو تلل او په ځان کښې خندل او داسې نورې بلها محاورې هم دي.

د ډاکټر سمندر يوسفزي "د لونګو رشې" نه د يو څو محاورو استعمال دلته راوړلې شي. هغوي چې کومې نوي او زړې محاورې راوړي دي هغه دا دي دلته ئې د الف، ب، پ د پټۍ په ترتيب سره ذکر کولې شي.

۱.اسمان خوړل: هيڅ پته نه لګېدل

خوبونه خدائے خبر چې څنګ د هغې ورکې به وي
چې دا خوړلې به اسمان وي که نه زمکې به وي[v]

۲. اور بلېدل: په نورو غم او خفګان راتلل، چا ته خفګان جوړول.

"په ډېرو ډېرو خلقو خو به يخې اوبۀ واوړي
په ډېرو ډېرو خلقو به اور بل شي که تۀ راشے[vi]

۳. بر برکت الوتل: هر څه ختمېدل، خلاصېدل.

"بر برکت سمندر وړے دے له ځانه سره
جامونه تش دي مېخانه غلي ده غږ نۀ کوي[vii]

۴. په رڼا ځان وينځل: ډېره ښېوه کول، نازونه کول.

"د ګلو لخته هر سحر په رڼا ځان وينځي
څومره نازکه ده د نمر په رڼا ځان وينځي[viii]

۵. په ډکه خلۀ خندا کول: ډېره خوشحالي کول،

"وس زما هم سترګې ډکېږي داسې نه وو پخوا
په ډکه خلۀ چرته کښې کړې مې خندا پسې ده[ix]

۶. په تله دروند نۀ ختل: عزت ختمېدل، قدر کمېدل.

"بيا ورته هيڅوک د وفا په تله دروند خېژي
چې زۀ د خاورو په خوړلو ورته هيڅ نه وايم[x]

۷. په ځان کښې نه ځائېدل: ډېر زيات خوشحالېدل.

"لافې که هر څو د دروغو دي خو تا کړي دي
د خوشحالۍ نه سمندر په ځان کښې نه ځائيږي[xi]

۸. په لمنه مونځ کول: ځان پاک حسابول.

"ګورے که اوشي سمندره زما مونځ په لمن
اور ورکي د هغې ګوره په لمنه خېژي[xii]

۹. په نيمه خلۀ راتلل: خبره منل.

"د هغه نه به څنګ زړۀ نه ځارومه
چې په نيمه خلۀ مې خوا له راروان شي[xiii]

پروفېسر سيد محمود ظفر دغه محاوره په ډېر ښکلي انداز کښې راوړې ده لکه داسې:

"را مۀ شئ ځان ورکيه ما له ډېر په نيمه خلۀ راځي
دا پښتونولي ده او حجرو ته پښتانه راځي[xiv]

۱۰. په زړۀ کښې لار کول: مېلاوېدل، خبره جوړېدل.

"غزالو سترګو دې زما په زړۀ کښې لارې اوکړې
په تا مې اوليکو غزل تر تا دراورسېدم[xv]

۱۱. په تله دروند ختل: عزت سېوا کېدل، قدر زياتېدل.

"بيا ورته هيڅوک د وفا په تله دروند نه خېژي
چې زۀ د خاورو په خوړلو ورته هيڅ نه وايم[xvi]

۱۲. په خله مهر لګول: چپ پاتې کېدل.

"په زړه ئې ډېر وي خو مهر ئې په خله وهلے
نيسي غاښ کښې لوپټه غلي ده غږ نه کوي[xvii]

۱۳. تود باد نۀ لګېدل: د مصيبت او سختي نه په امان کېدل، راحته موندل.

"تود باد دې هم چرته کښې خداے په تاسو نه راولي
خو ستاسو کور دې زمونږ کلي ته سېلاب راوړي[xviii]

۱۴. ټال متول کېدل: ډوګ بوک کول، خبره ځنډول.

"چې د بام په سر ئې غلي اشارې کړې
چې خالي ګودر وي هسې ټال متول کړې[xix]

۱۵. ټول کلے خبرېدل: خبره ښکاره کول، په جار يو کار کول.

"ما په ځان ټول کلے خبر کړلو هيڅ مې پرې نه ښودل
ما هر څه اووې خو هغه غلې ده غږ نه کوي[xx]

۱۶. حېرت ګوته په غاښ کول:حېرانېدل، ګران کار مکمل کول.

"څوک چې تېرېږي د حېرت ګوتې په غاښو له وړې
څوک چې زمونږ د محبت په لوړ حصار تېرېږي[xxi]

دا محاوره حميد بابا داسې راوړې ده.

"پارسي بانو د حېرت ګوتې په غاښ کړے
چې حميد سخن سازي کړه په پښتو کښې[xxii]

۱۷. خوا سړېدل: خوشحالېدل.

"سره دې قهرژنه خوا صياده شوه که نه شوه
له قېده دې قېدي مرغۍ ازاده شوه که نه شوه[xxiii]

۱۸.خوا يخېدل: غصه ختمېدل

"هغه هم اوکړه چې دې خوا يخه شي وخت به راځي
هغه کوم جبر چې زمونږه په قام نه دے شوے[xxiv]

۱۹. يا دا محاوره:

"خوا دې يخېږي که نه تنده دې لا هغسې ده
نور به څومره وينه څښې ته اووايه حېوانه وينه[xxv]

۲۰. خپسه پاڅېدل: خراب حالات ختمېدل، حالات سمېدل، ويره ختمېدل.

"د دې کوڅو نه به خپسه پاڅي زوګ به خېژي
په دې کوڅو کښې به اتڼ کېږي ته ترپکې به وي[xxvi]

۲۱. يا دا محاوره:

"لکه چې بيا کښېني خپسه د ژوندون په مرئ
ساندې راخېژي سرنده غلي ده غږ نه کوي[xxvii]

۲۲. خاورې بادول: ارمان کول.

"خاورې ايرې شوې پسې باد په وطنونو باندې
پتنګه ته يوه ذره رڼا ته نه يادېږے[xxviii]

۲۳. د توبې ور بندول: بې وخته کار کول.

"څومره وختې ئې د توبې دروازې بندې کړلې
ګوره ساقي د مېکدې دروازې بندې کړلې[xxix]

۲۴. رو ګودر پېژندل، کم عقل توب کول، سم کار ورانول.

"پښتون هوښيار نه شو اوس هم رو ګودر نه پېژني
سر لوړ ساتي خو د خپل سر سوداګر نه پېژني[xxx]

۲۵. رڼا خوړل: ظلم کول.

"ستا د زلفو نه زما اوس ويره کېږي
خورې شوي دې تيارې هر خوا رڼا خوري[xxxi]

۲۶. زړۀ خوږېدل: ډېر تکليف مېلاوېدل، ډېر تکليف رسېدل.

"زما زړۀ له درده خور له غمه ډک دے
د ګل رخې دراز قدې نه ځان ورک دے[xxxii]

۲۷. زړۀ کور ته راتلل: چا له مينه ورکول، ملګرتيا پخېدل.

"د زړۀ کور ته راځي څوک د کوڅې پورې ياران وي
دنيا ده څوک د ورځې څوک د شپې پورې ياران وي[xxxiii]

۲۸. زړۀ خوږېدل: بې ارامه کېدل.

"دا مېدان مړ زړۀ زمانې ټک په ټکه جوړ کړو
زۀ څه خبر ووم چې دا ستا سترګې لټکې به وي[xxxiv]

۲۹. زړۀ خوږېدل: زړۀ خوږل، تکليف رسېدل.

"ښه په رښتيا وايم چې زړۀ مې پرې خوږېږي بلها
که په رښتيا مې هم بد له دشمنه خېژي[xxxv]

۳۰. او یا دا محاوره:

هسې د خپل زړۀ په درزا پسې مې زړۀ خوږېږي
ستا د ښائست په انتها پسې مې زړۀ خوږېږي[xxxvi]

۳۱. زړۀ رانجه کول: ډېر زيات تکليف رسول، په ځان سخته تېرول.

"زما زړۀ ئې وړۀ رانجه کړو لېونی ده
شوخ له خوا نه مې هر وخت هغه شين خال وړي[xxxvii]

۳۲. زړۀ سپينېدل: خبره پاکه کول، دشمني ختمول، روغه کول.

"چې زړونه سپين نه وي د تورې په شان پړق نه وهي
بيا ولې دوي په دې روان دوران کښې نه ځائيږي[xxxviii]

۳۳. زړۀ په هوا کېدل: خوشحالي کول.

"زړۀ مې اوس هم ګل مخې هسې په هوا هوا دے
هر څه که زۀ يم ستا د زلفو له طوفانه لرې[xxxix]

۳۴. زړۀ تويول: زياتې کول، ظلم کول.

"اوښکې خو اوښکې وي د غم که د ښادۍ وي ښکلو
وينې زما هسې په زړۀ تويوئ مه تويوئ[xl]

۳۵. زړۀ ماتېدل: خفګان يا تکليف رسول.

"د چا د لاسه چې مې زړۀ مات دے ټوټې ټوټې دے
اوس هم په هغه بې وفا پسې مې زړۀ خوږېږي[xli]

۳۶. او يا دا محاوره:

کله نه کله خدايه داسې په زړۀ مات شي سړے
نه د حجرې شي او نه پاټي د جومات شي سړے[xlii]

۳۷. زړۀ وړل: د بل چا ځان ته توجه راګرځول، څوک په ځان مئينول.

"چې د سترګو تورولو په چل پوې شوه
اوس زما د زړۀ د وړلو په چل پوې شوه[xliii]

۳۸. زړۀ راټولول: زړۀ راټولېدل، خوشحاله کېدل، مطمئين کېدل.

"زما زړۀ نه راټولېږي
خور اور شوے دے يو شل ځاے[xliv]

۳۹. او يا دا ګړنې:

د سړي زړۀ پرې راټول وي
څه ياران څومره خواږۀ وي[xlv]

۴۰. زړۀ راسپړدل: خبره کول، چا ته احوال بيانول.

"داسې څوک نشته چې خپل زړۀ ورته راوسپړمه
ډېرې خبرې به د ځان سره تر ګوره وړمه[xlvi]

۴۱. زړۀ سېزل: په چا خفه کېدل، ترس کول، زړۀ نه سېزل په چا نه خفه کېدل، په چا ترس نه کول

"په محبت کښې عذابونه په چا زړۀ نه سېزي
زړګيه دلته سرابونه په چا زړۀ نه سېزي[xlvii]

۴۲. يا دا ګړنې:

په تا به زړۀ سېزي په تا به فخر هم کوي ډېر
دلته چې څوک هم سمندره په سنګذار تېرېږي[xlviii]

۴۳.: زړۀ شين کېدل: ډېر تکليف برداشت کول.

"زړۀ مې شين شو له انتظاره خو جوړ نه جوړېږي
په ځان مې څه ونه کړه ياره خو جوړ نه جوړېږي[xlix]

۴۴. زړۀ لوېدل: خفه کېدل.

"چې زما زړۀ ورسره نه لوېږي نو څه به کېږي
دا له ګودره چې اوبه راوړي نازکې خدايه[l]

ډاکټر اباسين يوسفزي دغه ګړنۍ ډېره ښکلي او موثره استمال کړې ده. لکه داسې:

اوس چې کوم طرف ته ځې زړۀ به دې لوېږي
زما ياد به ورته لارو کښې ټوکېږي[li]

۴۵. ساګ سيلۍ وړل: ويرېدل

"د زړۀ په زور ناست يمه ساګ رانه سيلۍ وړي دي
بغېر له ياره د رنګونو ماښام هغسې دے[lii]

۴۶. سر خوړل: ختمېدل.

"دا په دې نه چې زمونږ مينې پکښې سر خوړلې
زما نفاق بدي شي يمه د مسلکونو خلاف[liii]

۴۷. سر خوړول:     بحث کول، په سر لګول، خبري کول.

"هغې وئیل سر مه خوروه نیشته په تول ښار کښې
چې خور اور کړي په سپین رخسار اوربل زما په شان[liv]

ډاکټر اقبال شاکر دغه ګړنې "سر خوړول" هم په دومره ښه استکارۍ او استازۍ سره راوړي ده.

هسې دې ناصح سر خوري نه کوي
زۀ په ښائستونو باندې مړ یمه[lv]

۴۸. سینې شلول:    ظلم کول، زیاتي کول.

"په بې دردۍ راله دردونو سینې وشلولې
مونږ له د خپل وطن غمونو سینې وشلولې[lvi]

۴۹. سترګې ډکېدل: ژړا کول، ژړا شورو کول.

"اوس زما هم سترګې ډکېږي داسې نه وو پخوا
په ډکه خلۀ چرته کښې کړې مې خندا پسې ده[lvii]

۵۰. سر ورکول:    قرباني کول، تاوان منل.

"د هغه څه کار دے هغه په حسن سر ورکوي
دا شوخي شنګي به لا هم سمندر نه پېژني[lviii]

۵۱. سرې اوبه اچول:     په قلاره کښېنول، پوهه کول.

"هم هغه خلقو ته اول سرې اوبه واچوئ
دا څوک چې وائي بې له جنګه دنیا نه جوړېږي[lix]

۵۲. سترګې خوړول:     خوشحالي کول.

"چې زما سترګې خورې کړې
هغه خوږ نظر دې راشي[lx]

۵۳. او یا دا ګړنې:

ما ستا د لاسه هم چرته سترګې خورې نه کړلې
خو تا زما په سر اشنا خوبونه ډېر کړل[lxi]

۵۴. د زړۀ کور ته راتلل: چا له مینه ورکول، ملګرتیا کول.

"د زړۀ کور ته راځي څوک د کوڅې پورې یاران وي
دنیا ده څوک د ورځې څوک د شپې پورې یاران وي[lxii]

۵۵. سپېره سیلۍ الوتل: غریبي راتلل، جدائي راتلل.

"اوس پکښې ښه سپېره سیلۍ د بلېتانه الوځي
د مینې داسې کوم نظر په دې بام نه دے شوے[lxiii]

۵۶. سر خوړل:     خبره ختمېدل، طمع خلاصېدل.

"دومره مو زر وعده سر نه شي خوړې
زۀ سمندر یمه جانان په ځاے دے[lxiv]

۵۷. غرض په ورځ پیدا کېدل: لالچ او طمع کول.

"دنیا څه د غرض او د لالچ په ورځ پیدا ده
د چا په محبت کښې چې زۀ مرم راپسې ګرځي[lxv]

۵۸. غوږونه ګړول: خبره نه اورېدل، خبره نه منل.

"چا ئې تر اوسه په رنو اوښکو غوږ نه ګړوو
له پښتنې شوه اوس له سترګو راروانه وینه[lxvi]

۵۹. غوږونه درنېدل:     ځان ناخبره ساتل.

"ستا په دې غږ پسې زما بیا شوه غوږونه درانه
مور مې پرکاله ده راځه غلې ده غږ نه کوي[lxvii]

۶۰. غوږونه خوړل:ډېر بحث کول، مسئلې جوړول.

"په رشتیا که د هغه پرې هم عمل وي
دا غوږونه چې په څه زمونږ ملا خوري[lxviii]

۶۱. قیامت تېرېدل: سخته راتلل، مصیبت کښې راګېرېدل.

"داسې ورځ نه ده چې په ما به قیامت نه تېرېږي
دراز قامته چې راځې ما له عذاب راوړي[lxix]

۶۲. ګیاه خوړل:     ناپوهه ښکارېدل.

"ځینې خلق په خپل ځان دومره هوښیار وي
ته به وائي چې دا نور خلق ګیاه خوري[lxx]

۶۳. لاس اخستل:    خبره ختمول، توبه ګار کېدل.

"نه مینه کوي څوک نه د نفرت ځینې لاس اخلي
زۀ هسې لېونے په دې خبرو ورپسې یم[lxxi]

۶۴. یا دا ګړني اوګورې:

څه ته چې لاس اچوم هر څه رانه لاس اخلي
پښې مې په زمکه سوزي ته هم ئې اسمانه لري[lxxii]

۶۵. لمنه سپینېدل:    پټ نه پاتې کېدل، ښکاره کېدل.

"ډېر ئې که وینځو په ایرو لمنې نه سپینېږي
چې محبت کوو تر څو لمنې نه سپینېږي[lxxiii]

۶۶. لمنه تورېدل:    بدنام کېدل.

"هغې وئيل هلکه ستاسو لمن نه تورېږي
هغې وئيل د جينکو لمنې نه سپينېږي[lxxiv]

۶۷. لار نيسل:    يو کار بندول، زوراورتيا کول.

"د ژړا ډکه ئې خندا ته لارې ولې نيسې
چې زما نه ئې نو بيا ما ته لارې ولې نيسې[lxxv]

۶۸. يا دا ګړنۍ هم د کتلو ده.

د دوي لاس بوي کړئ بوي د تيلو هم د دوي د لاس نه خېژي
دا څوک چې اوس راپاڅېدلي اور ته لارې نيسې[lxxvi]

۶۹. لار بدلول:    جدائي راتلل، ناسته پاسته ختمېدل.

"تهٔ دې هم لار کړه بدله
زهٔ به هم کړمه بدل ځاے[lxxvii]

۷۰. يخې اوبه اوړېدل:    حېرانېدل.

"په ډېرو ډېرو خو به يخې اوبهٔ واوړي
په ډېرو ډېرو به اور بل شي که ته راشے[lxxviii]

دغه رنګ سمندر يوسفزي نورې هم بلها محاورې په خپله شعري مجموعه "د لونګو رشې" کښې راځاے کړې دي. محاوره چې په پښتو کښې ورته "ګړنې" ټکے وضع کړے شوے دے خو لا په استعمال کښې به لږ وخت اخلي. دغه محاورو په استعمال سره ډاکټر سمندر يوسفزي خپل کلام ته خوږوالے او درناوې ورکړے دے. دغه محاورې د پښتون قام او پښتو ژبې د يوې هينداري او ائينې حيثيت لرلې دے. د زمانې د بدلون سره نوي نوي محاورې جوړېږي او د ژبې پنګه پرې درنېږي هم دغه رنګ سمندر په نوي او زړو محاورو ښه لاس برې لرلے دے.

**حوالي**

---

[i] یوسفزے، وسیم، فرهاد علي، دملغلرو لړۍ، عامر پرنټنګ ایجنسي، پېښور، 2013، مخونه 29-28

[ii] داود، داورخان، پروفېسر، سېلاب، د پښتو د امروزو او محاورو لغت، نورالله کتوزۍ پرنټنګ پریس، جي ټي روډ پېښور، اول ځل، 2011، مخ 3

[iii] حالی، الطاف حسین، مولانا، مقدمہ شعر و شاعری، لاہور، زاہدہ نوید پرنٹرز اکتوبر 2015ء، ص129

[iv] یوسفزے، وسیم فرهاد علي، د ملغلرو لړۍ، مشموله سریزه، په لیک کښې محاوره مخوریزه وي" از پروفېسر میا عنوان الدین کاکاخېل، مخ 21

[v] سمندر یوسفزے، ډاکټر، د لونګو رشې، اعراف پرنټرز، پېښور، اګست 2023، مخ 143

[vi] همدغه اثر، مخ 34

[vii] همدغه اثر، مخ 161

[viii] همدغه اثر، مخ 26

[ix] همدغه اثر، مخ 109

[x] همدغه اثر، مخ 185

[xi] همدغه اثر، مخ 106

[xii] همدغه اثر، مخ 139

[xiii] ظفر، سیدمحمود، پروفېسر، پښتو، د یوولسم جماعت له پاره، خیبر پښتونخوا ټیکسټ بک بورډ پېښور، تعلیمي کال 2020-21، مخ 235

[xiv] ډاکټر سمندر یوسفزے، د لونګو رشې، مخ 154

[xv] همدغه اثر، مخ 193

[xvi] همدغه اثر، مخ 161

[xvii] همدغه اثر، مخ 50

[xviii] همدغه اثر، مخ 48

[xix] همدغه اثر، مخ 160

[xx] همدغه اثر، مخ 75

[xxi] د عبدالحمید بابا دیوان، در او مرجان، از ډاکټر سید انوارالحق جیلاني، پېښور، کابلۍ دروازه یونیورسټي بک ایجنسي، د اشاعت کال نه لري، دویم چاپ، مخ 131

[xxii] ډاکټر سمندر یوسفزے، د لونګو رشې، مخ 22

[xxiii] همدغه اثر، مخ 147

[xxiv] همدغه اثر، مخ 143

[xxv] همدغه اثر، مخ 160

[xxvi] همدغه اثر، مخ 181

[xxvii] همدغه اثر، مخ 158

[xxviii] همدغه اثر، مخ 157

[xxix] همدغه اثر، مخ 52

[xxx] همدغه اثر، مخ 177

[xxxi] همدغه اثر، مخ 64

[xxxii] همدغه اثر، مخ 22

[xxxiii] همدغه اثر، مخ 98

[xxxiv] همدغه اثر، مخ 140

[xxxv] همدغه اثر، مخ 144

[xxxvi] همدغه اثر، مخ 106

[xxxvii] همدغه اثر، مخ 163

[xxxviii] همدغه اثر، مخ 40

[xxxix] همدغه اثر، مخ 185

[xl] همدغه اثر، مخ 152

[xli] همدغه اثر، مخ 86

[xlii] همدغه اثر، مخ 103

[xliii] همدغه اثر، مخ 184

[xliv] همدغه اثر، مخ 100

[xlv] همدغه اثر، مخ 99

[xlvi] همدغه اثر، مخ 166

[xlvii] همدغه اثر، مخ 107

[xlviii] همدغه اثر، مخ 33

[xlix] همدغه اثر، مخ 75

[l] همدغه اثر، مخ 19

[li] اباسین یوسفزے، غورځنګونه، شعیب سنز پبلشرز اینډ بک سیلرز، لسم چاپ، دسمبر2012ء، مخ 41

[lii] ډاکټر سمندر یوسفزے، د لونګو رشې، مخ 112

[liii] همدغه اثر، مخ 173

[liv] همدغه اثر، مخ 112

[lv] همدغه اثر، مخ 173

[lvi] همدغه اثر، مخ 72

[lvii] شاکر، محمد اقبال، کودري، یونیورستي بک ایجنسي، پېښور، دریم ځل، 2015، مخ 59

[lviii] ډاکټر سمندر یوسفزے، د لونګو رشې، مخ 88

[lix] همدغه اثر، مخ 109

[lx] همدغه اثر، مخ 157

[lxi] همدغه اثر، مخ 170

[lxii] همدغه اثر، مخ 100

[lxiii] همدغه اثر، مخ 98

[lxiv] همدغه اثر، مخ 172

[lxv] همدغه اثر، مخ 131

[lxvi] همدغه اثر، مخ 147

[lxvii] همدغه اثر، مخ 161

[lxviii] همدغه اثر، مخ 178

[lxix] همدغه اثر، مخ 50

[lxx] همدغه اثر، مخ 178

[lxxi] همدغه اثر، مخ 32

[lxxii] همدغه اثر، مخ 25

[lxxiii] همدغه اثر، مخ 152

[lxxiv] همدغه اثر، مخ 34

[lxxv] همدغه اثر، مخ 52

[lxxvi] همدغه اثر، مخ 35

[lxxvii] همدغه اثر، مخ 77

[lxxviii] همدغه اثر، مخ 35